# د جنوري د میاشتې په ۱۱ مه نېټه، د دفاع وزات ملکي څانګه په ناروې کې د خطر زنګونه آزمایښت کوي

په کال کې دوه ځله، د جنوري او جون په میاشتو کې د دفاع وزات ملکي څانګه د خطر زنګونه آزمایښت کوي، تر څو وګوري چې یاد زنګونه کار ورکوي او که نه او که چیرې کومې تخنیکي ستونزې وي چې اصلاح یې کړي. د روان کال د جنوري د میاشتې په ۱۱ مه نېټه، چهار شنبه د ورځې په ۱۲ بجو په ټولو هغو ښاروالیو (کمونونو) کې چې د خبرتیا سیستمونه لري د «مهم پیغام - د معلوماتو په لټه کې شئ» تر نامه لاندې د خطر زنګونه وهل کېږي.

## سیګنال

د خطر د زنګ سیګنال په درې پړاوونو کې وهل کېږي چې د هر پړاو تر منځ به یوه دقیقه دمه (وقفه) وي. د خطر د زنګ د سیګنال معنی دا ده چې تاسو باید په رادیو، تلویزون، ورځپاڼو، د دولتي ادارو په انترنت پاڼو او همدارنګه په ټولنیزو رسنیو کې معلومات ولټوئ.

## د خطر زنګونه

د ناروې په بېلابېلو سیمو کې د خطر ۱۲۵۰ زنګونه شتون لري چې د بیروني خطر پر مهال باید خلک خبر کړي. د خطر ډیری زنګونه په ښارونو او ګڼ نفوسه سیمو کې ځای پر ځای شوي دي او د ناروې د وګړو شاوخوا نیمایي برخه یې اوریدلای شي. د خطر زنګونه هم د سولې او هم د جګړې پر مهال کارول کیږي.